درویش وردک

۰۱ می ۲۰۱۶

## څلورديرشم مجلس (له کبره ډډه کول)

بزرګوارشیخ عبدالقادرګیلانی(رضی الله تعالی عنه) داسی وفرمایل:

قوم په بذل اوبخشش اوخلکوته دهوساینی اوراحت دوسایلوپه تهیه کولو مشغول دی. اخلی یی اونوروته یی بخشی، له فضل اوعنایت څخه یی اخلی اودرویشانواومسکینانو اوپوره وړیوته چی دپوردداداءکولوڅخه ناتوانه دی، اعطاکوی. دوی ملوک اودځمکی پرمخ پادشاهان دی، ولی نه دظاهری پادشاهانو په څیرچی له نورو یی اخلی اوغارت کوی یی اوچاته یی نه ورکوی. قوم(اولیاءالله) هرڅه چی په لاس کی لری بخښی یی، په واقعیت کی ایثارکوی، اودحق درحمت انتظارکوی. دحق دقدرت له لاسونویی غواړی نه دخلکو له لاسونو. هغه څه چی په غړواوجوارحولاس ته راوړی، دخدای په لاره اودمخلوق لپاره یی لګوی، اوهغه څه چی په زړونو ترلاسه کوی، دخپل آخرت ذخیره ګرځوی. عطا یی دخدای درضا لپاره دی، نه دنفس دهوا په خاطر له چاڅخه دمدح اوستایش تمه نلری.

کبراوځان غوښتنه له ځانه لیری کړه، دخدای اودخدای دمخلوق پروړاندی سرټیټی اوفروتن اوسه، ځکه کبراوځان لوی بلل دزورګویانو اوستمګرانوصفت دی، چی عزّوجلّ خدای دوی ته دجهنم اوپرتیڼه دداغ وعده ورکړی. هرکله که ددخدای پروړاندی دناراضایتی اظهاروکړ،نوپوه شه چی داهم ستا په کبرکی ریښه لری، پس راشه اوله دغه ناوړه خُلق څخه توبه وباسه، اودنیت په خلوص توبه ترپایه ورسوه، مخکی له دی چی په خواری اوذلت دمرګ په لمنه کی پریوزی، همداسی چی نمرود اوتاریخ نورستمګاران پری ګرفتاره شوی دی. هغوی چی دخدای پروړاندی تکبروکړ، دځای اومقام په لټه کی په خواری ګرفتارشول، اوتوانګری یی په درویشی بدله شوه، نعمتونه یی په عذاب اوحیات یی په مرګ بدل شو.

له پرهیزګارانو څخه اوسی، ځکه شرک دوه ډوله دی، ظاهری شرک اوباطنی شرک، ظاهری شرک بت پرستی ده، اوباطنی شرک پرخلکو توکل، اوله دوی څخه دګټی اوتاوان تمه کول دی.

له خلکو څخه داسی کسان شته چی باوجود چی ددنیا دمال څخه کافی بهره لری، ولی قلباً له هغی بیزاره وی. دوی ددنیا مطلق مالکان دی، ددنیا مال ددوی مالک ندی، ددنیا مال په دوی پسی دی، نه دوی ددنیا په مال پسی. دوی ددنیا دمال څخه لیری والی کوی، نه ددنیا مال له دوی څخه. خپل زړونه یی خدای ته تسلیم کړی. دنیا قادره نده چی دوی فساد ته وکاږی، پرهمدی بنسټ پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایی: (نِعْمَ الْمالُ الصَّآلِحُ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ)-«څومره ښه دی ددنیا نیک مال، دررستکارکس لپاره».

(ای دخدای بنده) ځان زماله نصیحتونو بی نیازه مه بوله، چی په دی صورت که به گمراه شی. اصولا هرچاچی دځان لپاره درأیی استغنا قایل شو، گمراه اوخواریږی، اوداشتبهاه اوښووئیدنی سره مخ کیږی. هرکله که دی ځان دناصحانوله نصیحته بی نیازه وګاڼه، هدایت دربانذی حرام کیږی. ځکه له هغه سببه چی خدای ته دی رسوی، لیری شوی یی. شاید ادعاء وکړی چی زه دعلماو له علمه بی نیازه یم اوخپله دعلم دعوی وکړی. ډیرښه، پس علم دی چیری دی؟ ددی ادعا اثرچیری دی؟ دهغی مصداق کوم دی؟ دعلم اظهار دعمل ،اخلاص اوصبرسره اودبلاو پروخت دجزع اودلتنگی دنه اظهار په صورت کی صحت اوثابت کیدای شی. ته په حکم کی ړوند یی اودبینایی دعوه کوی.!فهم اوتفکر دی ناروغه دی، څرنګه دفهم اودرک ادعاکوی؟ له دی پوچواودروغووعدوڅخه توبه وکاږه، له ټولو خلکو لاس په سرشه اودټولو خالق ته متوسل شه. هرڅوک چی ماتیږی، که څوک درملنه کیږی، هغه چی هلاک کیږی، اوهغه چی قدرت ته رسیږی، ته یی مسوول نه یی اوستا پراوږوڅه ندی بار. هغه څه چی پرتالازم دی چی خپل نفس له ککړتیاوپاک کړی،ترڅو داطمینان مرحلی ته ورسیږی.په دی صورت کی لازمه ده چی تل په دنیا اوآخرت کی دحق قرب طلب کړی،اولازمه ده چی تقوی ته راشی اوپرته له خدایه له غیروڅخه تجرد غوره کړی. پرتا لازمه ده چی دخدای پروړاندی ځان کاملا نفی کړی، اوخپل نفس په کوم شی علاقمندنکړی، مگرداوامرو په ترسره کولواودحق له نوهیوڅخه په ډډه کولو سره، ترڅوتاپه دی حال ثابت وساتی.

ای مردانو! ای زنانو! هرکله که داخلاص یوه ذره دسره پیداشوه، یوه شی چی ژغورل شوی یاست. یوه ذره صبراولږشکر دژغورنی اوفلاح سبب گرځی. ولی افسوس چی تاسوپه دی موردکی مفلس اومحتاجه بولم.

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخرم حسنه وقنا عذاب النار» آمین.**